مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۶/۱۹

# ته خو یوځلې بیا راشه!

دا ځل بیا که شوې راپېښه
لاس په لاس به
دواړه، داسي ځای ته ولاړ شو،
چې وي ښکلی،
دومره ښکلی؛
لکه ستا په خوږو سترګو کې چې ګډ شي:
د غوسې،
مینې،
ګیلې
او
خندا ښې.
که دا ځلې شوې راپېښه
دلته ځېرمه دي،
یو ګڼ ځنګله ته بیایم
هلته سپینه شرشره ده
د زړو او ګورو هسکو ونو ډډ ته
بس، تر دغې شرشرې لاندې چې تېر شو
یوه بله دونیا هلته راپیلیږي.
چې هیڅوک ترې خبر نه دي.
ته هم بل چاته مه وایه...
خو، که داځلې ته راشې
تا به داسې ځای ته بوځم
چې اسمان یې لکه ډنډ د لاژوردو
داسې شین اوبرنګ ځلیږي
هر ماښام چې ډیوې بلې شي د لمنځو
یو ساعت په کې باران اوري د تکو سرو شرابو
غواړې، دا ځل که ته راشې
هر ماښام د لمنځو لمنځو ډیوو هغې رڼایي ته،
چې یې وړانګې د نیزو په شان یو بل ته غاړې وځي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته د سرو شرابو شرک باران ته کټ کټ په خندا شي
په نڅا شي
شاته ملا باندې کږه شي
د شرابو تر باران لاندې لمده شي
پایزېبونه دې په مستو نغمو سر شي
شرنګ، شرنګ، شرنګ.
بس که داځلي خدای راوستي ورېښمیني
په نازک کمیس کې ګل غوندې مهیني
چې ته ناڅې او شراب دربانديږ اوري
په باران کې یو رګ عطر د سنځلو
او ورږمې ورږمې ګلاب در باندې اوري
چې ته ناڅې او شراب درباندې اوري
باد، یو مست ربابي شپون وي،
چې د وریځو رمې پیایي
د غره هر مرمر کمر نه
د خالق په لاس تراشلي
یوه دنګه،
بله ناسته
یا پرته مجسمه وي
او د هریوې ټټر باندې له سپینو مرمرینو انارونو
ځاځکي ځاځکي شات بهيږي.
چې ته ناڅې او د سرو شرابو شرک باران وريږي.
بس که داځلي بیا راغلي
تا یو داسې ځای ته بیایم،
چې تاووس یې سر د مار خوري
او هوسۍ یې ملکه وي د ځنګلونو
چې زمري یې په اغزیو بنه ماږه وي.
بس، ته یو ځلي بیا راشه،
زه دې داسې ځای ته بیایم
چې باغونه او ځنګل یې
له رنګینو ونو ډک وي
ټولې پاڼې یې شنې نه وي
په سپرلي کې هم د سرو او ژېړو پاڼو سره ځنګ کې
بنفشه غوندې یې سره ګډ وي اوبرنګ کې،
لاژوردینې
او
عقیق غوندې رنګینې پاڼې زانګي له رڼو صدفي ځانګو
ته چې ناڅې د شرابو سره باران ته
یو ناڅاپه دې ورپام شي
کټ کټ بیا په خندا وګورې اسمان ته
او په شرک دې له لمدو زلفو راوشیندې زما مخ ته
سره مرجان د ورېدلي شرابي باران له ځاځکو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

رانږدي شي، دومره ډېره
چې له زني او ګريوان دي
د باران سره ځاځکي سترګو ته راتوی شي
او بيا مسته په خندا شي:
چې ته ګوره!
د شرابو په باران کې مې جامې داسې لمدې شوې
اوس نو وګرځه په ونو
پاڼې راوړه، شنې او ژېړې
ياقوتي او شيرچايي، لاژوردينې
راته جوړې کړه جامې هومره رنګينې
چې لمن يې راپسې ځي،
لکه چتر چې روان وي
د دې ټولو تاووسانو د رنګه رنګه بڼکو
ته خو يو ځلې بيا راشه!
تا به داسې ځای ته بوځم
چې د رنګارنګ مرغيو
او رنګينو پتنګانو
يوه ګرځنده کړۍ دې پر سر څرخي
لکه تاج د ښاپيريو د ملکې
چې مې لاس وي ستا نيولی
او په سپينه مرمرينه لار روان يو پر ګلابو
هلته دوه د وريځو سپين اسونه زين وي
خو ته وخاندې، چې:
نا! نا!
زه په بېل اس باندې نه ځم
راځه دواړه په يو اس باندې سواره شو
او
د وريځو په وريښمن اس راسره شي
چې لاسونه دې کړۍ کړې زما له ملا نه
زه دې اورم په خپل زړه کې
د مېين زړګي خبرې
دواړه زړونه مخامخ شي
پس له ډېرو زمانو نه
بس همدا وايي يو بل ته:
خير دې يو ځلې بيا راشه!
تا به داسې ځای ته بوځم،
چې تر سپينې شرشرې لاندې ورتله وي
بس همله ورکېده وي،
چې ترې بېرته راتله نه وي.





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ